جيو افغانيکا

تیوری تحقیق تحلیل

د مندېش پاڼې

نېک چيزمين، ماتياس بيانکي، او
جېنېفر سېر

ژباړه: پوهنمل هـ الف



# نالېبراله نړيوال نظم

## استبدادي همکاري د نړيوال نظم بڼه بدلوي

# نالیبراله نړیوال نظم:
# استبدادي همکاري د نړیوال نظم بڼه بدلوي

---

لیکوالان: نېک چیزمین، ماتیاس بیانکي، او جېنېفر سېر

ژباړن: پوهنمل هـ . الف

نشروونکی: د جیوافغانیکا د نړیوالو اړیکو مرکز

نېټه: د ۲۰۲۶ کال د می میاشت

لړۍ: د مندېش پاڼې

اړیکه:
geoafghanica@gmail.com
abilalnajeeb@gmail.com

# د جیوافغانیکا په اړه

جیوافغانیکا د پښتو ژبې انلاین پلېټفارم دی، چې موخه یې په علمي او عملي برخه کې د نړیوالو اړیکو وده ده. موږ غواړو په پښتو کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د پوهې تشه ډکه، د آی آر او افغانستان‌محوره سیمې په اړه تیورۍ، تحلیلونه او تحقیقونه وړاندې کړو. تاسو جیوافغانیکا په دې آدرس خارلی شئ (https://geoafghanica.com/)

**زموږ موخه**

● په پښتو ژبه کې د نړیوالو اړیکو د مهمو علمي متنونو ژباړه، چې د آی آر اساسات، تېورۍ، مېتودونه او مفاهیم بیانوي.

● د آی آر پښتو کولو ترڅنګ، د سیمې او نړیوالو قضایاوو په تړاو، د نړۍ د یو شمېر مفکرینو لیکنې او تحلیلونه ژباړل؛

● د راتلونکو ځوانانو یو داسې ټولی روزل، چې نه یوازې دا چې په نړیوالو ژبو د افغانانو لیدلوری نړیوالو ته وړاندې کړي، بلکې له دولتي نرېټیف (بیانیې) هم کلک ملاتړ وکړي. دغه راز، د اوسنیو ځوانانو ترمنځ پر یو داسې پلېټ‌فارم هم بدلېدل چې په سیمه کې د افغانستان ستونزې او ګټه بایلات بحث کړي. د سیمې د روانو لوبو او سیالیو د تحلیلولو ترڅنګ پر افغانستان د دې ټولو اغېزې هم وشني.

# نېک چيزمين



نېک چيزمين نوميالی سياسي عالم دی چې د مقايسوي سياست، ډيموکراسۍ او استبدادي نظامونو په اړه څېړنې کوي. دی د انګلستان د برمنګهم پوهنتون (University of Birmingham) کې د ډيموکراسۍ د څېړنو پروفيسور دی او د “Democracy in Africa” د څېړنيز مرکز مشري هم کوي.

د ښاغلي چيزمين څېړنې په ځانګړي ډول په افريقا، ټاکنو، سياسي بنسټونو او استبدادي رژيمونو تمرکز کوي. نوموړي ګڼ شمېر کتابونه او علمي مقالې ليکلې دي او د نړيوالو سياسي مسايلو په اړه د يوه مهم شنونکي په توګه پېژندل کېږي.

# ماتیاس بیانکي



ماتیاس بیانکي د نړیوالو اړیکو او سیاسي اقتصاد په برخه کې څېړونکی دی. د ښاغلي بیانکي علمي تمرکز د نړیوال نظم، استبدادي همکارۍ، او د دولتونو ترمنځ د سیاسي اړیکو پر تحلیل دی.

بیانکي د څېړنیزو پروژو له لارې پر دې بوخت دی چې څرنګه غیر لیبرال یا استبدادي نظامونه په نړیواله کچه له یو بل سره همکاري کوي او دا همکاري نړیوال نظم څنګه بدلوي. دی له بېلابېلو علمي بنسټونو سره همکاري کړې او د نړیوال سیاست په اړه یې مقالې خپرې کړې دي.

# جېنيفر سېر



جېنيفر سېر د سياسي علومو پروفيسوره ده چې د لاتيني امريكا سياست، سياسي ګوندونو او ډيموکراسۍ په اړه څېړنې کوي. آغلې سېر د اريزونا پوهنتون (University of Arizona) کې استاده ده. د هغې علمي کار د سياسي ګوندونو سازمان، د ډيموکراسۍ ثبات، او د سياسي استازولۍ پر موضوعاتو تمرکز کوي. نوموړې څو مهم علمي کتابونه او مقالې ليکلې دي او په نړيواله کچه د سياسي علومو په برخه کې پېژندل شوې څېره ګڼل کېږي.

# نالیبرال نړیوال نظم: استبدادي همکاري د نړیوال نظم بڼه بدلوي

**لیکوالان: نیک چیزمین، ماتیاس بیانکي، او جینیفر سپر**

**ژباړن: پوهنمل هـ . الف**

د دوه نړیوالو جګړو په کلونو کې د شوروي اتحاد په مشرۍ د نړیوال کمونیزم له خوا د انقلابي او پانګوالۍ ضد ګوندونو ملاتړ له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د کمونیزم پراختیا ته زمینه برابره کړه. خو له سړې جګړې وروسته د متحده ایالاتو په مشرۍ نړیوال نظم بیا لیبرالیزم او ډیموکراسي ډېره پیاوړې کړه، که څه هم د لیبرالیزم او ډیموکراسۍ دا پیاوړتیا ډېره ناانډوله وه، خو بیا هم په ټوله نړۍ کې د ډیموکراسۍ د بدلونونو څپې رامنځته شوې. اوسمهال چې د بېلابېلو هېوادونو ترمنځ کومه سیاسي همکاري روانه ده، استبداد پیاوړی کوي. په دې خوځښت کې په ګډه مستبدین، نالیبرال حکومتونه، د سیستم ضد ګوندونه (چې زیاتره یې ښي اړخي افراطیان دي)، او د دوی ټولو خواخوږي شخصي فعالان شامل دي. دوی ټول د پیغامونو په همغږي کولو او د یو بل له مادي امکاناتو څخه په ګټه اخیستلو د یو بل ملاتړ کوي.

هغه څه چې دا ټول نالیبرال فعالان سره په خپلو کې تړي، دا نه دي چې دوی د سیاست په ډګر کې پر یو دریځ ولاړ دي، بلکې دا دي چې دوی ډیموکراټیکو بنسټونو او لیبرال ارزښتونو ته په کومه سترګه ګوري. په دې بنسټونو او ارزښتونو کې پر اجراییوي څواک محدودیتونه، د مدني آزادیو خوندیتوبونه او د قانون حاکمیت شامل دي. دغه نالیبرال رهبران، هغه که په تاریخي لحاظ د ډیموکراټیکو دولتونو رهبران وي لکه د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او که په ټوله مانا ثابت شوی مستبد رهبر وي، لکه د بیلاروس ولسمشر الیکساندر لوکاشینکوف (چې زیاتره ورته د اروپا وروستی دیکتاتور ویل کېږي)، دوی ټول سره څو ګډ ټکي لري چې عبارت دي له: د قدرت شخصي کول، د چیک او بیلانس کمزوري کول او د ناسمو معلوماتو خپرول چې حساب ورکوونه کمزوري کړي. پر دې سربېره، دغو رهبرانو د کثرتپالنې د بې مانا کولو او د خپلو مخالفانو مشروعیت تر سوال لاندې راوستلو په بېلابېلو کچو سیاسي حقونه او مدني آزادۍ پر شا وتنبولې. همدارنګه دوی لګیا دي خپلې سرچینې او امکانات سره یو ځای کوي، ناسم معلومات خپروي او یو بل ته د ډیپلوماټیک خوندیتوب امکانات برابروي. دا ټول د دې لپاره چې له سرحدونو ورآخوا خپل دغه نالیبراله شبکه فعاله وساتي. یقیني ده چې د دې شبکې زیاتېدونکې وړتیاوې او اغېز د نړۍ توازن د استبداد په لور کږوي.

ښايي د نالیبرال نړیوال ایتلاف فزیکي حضور د لومړي ځل لپاره د ۲۰۲۵ز کال په سپټمبر کې په بیجینګ کې تر سترګو شوی وي. هغه مهال کله چې د نړۍ د هغو هېوادونو مستبد مشران، چې له یو بل سره عملاً اقتصادي او امنیتي همکاري لري، سره یو ځای وو. دا درې مشهور مستبد مشران هر یو د چین مشر شي جینپینګ، د شمالي کوریا واکمن کیم جونګ اون او د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین سره یو ځای ولاړ وو او په عمل کې یې په اصطلاح د لیبرال اصولو پر وړاندې د مقاومت جبهه ښودله. خو د دوی دا راټولېدنه یوازې په سمندر کې د یخ د غره د څوکې کوچنۍ برخه وه، چې ښکاره شوه. په متحده ایالاتو کې د Action for Democracy ناانتفاعي بنسټ چې د استبدادي همکارۍ شاخص یا Authoritarian Collaboration Index یې خپور کړی دی،

یوازې په ۲۰۲۴ز کال کې یې له ۴۵۰۰۰ څخه د زیاتو لوړپوړو لیدنو، رسنیز مشارکت او دې ته ورته نورې پېښې ثبت کړې دي. دا ټولې لیدنې او مشارکتونه د نړۍ په کچه د استبدادي رژیمونو، د استبداد تمایل لرونکو حکومتونو او د استبداد تمایل لرونکو مخالفو سیاسي ګوندونو تر منځ شوي دي.

په عین حال کې د ډیموکراسیو ترمنځ همکاري کمزورې شوې ده. که څه هم د شلمې پېړۍ په اوږدو کې د لویدیزو هېوادونو له خوا د ډیموکراسۍ ملاتړ زیاتره مهال د دې لپاره و چې دغه هېوادونو په کې خپلې ګټې لیدلې، په همدې خاطر ډېر همغږي نه وو. خو بیا هم د ډیموکراسۍ د ملاتړ د اوج پر مهال لویدیزو هېوادونو تر خپل ملاتړ لاندې هېوادونو کې د اقتصادي امتیازاتو، پیاوړي ایډیالوژیک براند او همغږې ډیپلوماټیک فشار له لارې سیاسي لېبرالېز کېدل (Political Liberalization) هڅول. له سړې جګړې وروسته د لوېدیزو هېوادونو له خوا پر مرستو، سوداګریز لاسرسي او ډیپلوماټیک ګډون د مشروطیت (شرط ایښودنې) دوام دا مانا درلوده چې دوی لا هم تر خپل ملاتړ لاندې هېوادونو کې د دوی پر پلوۍ او د دوی د خوښې اصلاحات د انعام او ستاینې وړ ګڼي او په مقابل کې یې مخالفتونه د ګوښه کولو وړ. دا مهال د ډیموکراټیک ایتلاف مالي مرستې، انرژۍ او وړتیاوې د پخوا په پرتله کمې شوي دي، ځکه چې د لېبرال نړیوال نظم بنسټونو او د دې نظم غړیو هېوادونو خپل اغېز او باور له لاسه ورکړی دی. د ډیموکراسۍ ځینې پخواني لوبغاړي لکه د ټرمپ تر واک لاندې متحده ایالات په فعال ډول هڅه کوي چې نالېبراله شبکې فعالې کړي او که فعالې وي چې مشروعیت ورته ورکړي. حتی هغه هېوادونه چې ډیموکراټیک هویت خپل ویاړ ګڼي هم ډېر محتاط شوي دي او د عمل پر ځای یې د عکس العمل دریځ نیولی دی. هغوی په سختۍ ایله دومره کولای شي چې په خپلو داخلي چارو کې د نورو د لاسوهنې مخنیوی وکړي، نه دا چې له نالېبراله رژیمونو سره د سیالۍ ډګر ته ووځي.

څومره چې د استبدادي او ډیموکراټیکو شبکو ترمنځ د وړتیاوو واټن پراخېږي، په هماغه کچه د استبدادي واکمنې پایښت اسانه کېږي، خو په عین حال کې د ډیموکراټیک شاتګ مخنیوی سختېږي. دا حالت یوازې د هغوی لپاره د اندېښنې وړ نه دی چې د سیاسي حقونو او مدني آزادیو پر ارزښتونو باور لري. واقعیت دا دی چې په استبدادي هېوادونو کې تر ډیموکراټیکو هغو تاوتریخوالی (شخړې)، بې ثباتي او مخالفتونه ډېر، ژر او اسانه پېښېدلی شي او زیاترو استبدادي هېوادونو د ټولشموله پرمختګ په برخه کې ډېر کم څه کړي دي. همدا استبدادي هېوادونه د یوې داسې نړۍ د رامنځته کېدو لامل کېږي چې ډېره خوندي نه ده، آزادي هم په کې دومره نه شته او نېکمرغي په کې بېخي کمه ده. که چېرې په نړۍ کې ډیموکراټیکه همغږي نسبت خپلې سیالې استبدادي همغږۍ ته همداسې کمزورې وي او په اصطلاح هېڅ خریدار ونه لري، نو د استبداد لا پراخېدا خپله یقیني کېږي.

## د استبداد لپاره یوه خوندي نړۍ

لیبرال ډیموکراسي له خطر سره مخ پدیدې باندې اوښتې ده. کابو پینځه ویشت کلونه کېږي چې نړۍ له ډیموکراټیک رکود سره مخ ده. د ډیموکراسۍ ډولونه (V-Dem) شاخص له مخې (چې ډېر استناد هم پرې شوی دی) یوازې په ۲۰۲۵ز کال کې پینځه څلوېښت هېوادونه له ډیموکراسۍ څخه استبداد طرف ته اوښتي دي. اوسمهال په ټوله نړۍ کې یوازې پر ۲۹ هېوادونو د بشپړو ډیموکراټیکو هېوادونو اطلاق کېدای شي.

که په همدې موضوع لږ نور ژور تمرکز وشي، نو وضعیت نور هم خرابېږي. په شلمه پېړۍ کې اکثره داسې کېدل چې که کومه ډیموکراسي به پر شا وتمبېده، نو په اسانۍ به یې بېرته خپل ځان راجوړولای شو. په یوراګوای کې د ۱۹۳۳ز کال له کودتا وروسته لسو کلونو کې بېرته ډیموکراسۍ ځان راجوړ کړ. په هندوستان کې کله چې په ۱۹۷۰ز کال کې لومړۍ وزېرې ایندرا ګاندهي واک متمرکز کړ، یوازې اووه کاله وروسته یانې د ۱۹۷۷ز کال ټاکنو په سختۍ، خو یوه دوامداره ډیموکراسي بېرته راژوندۍ کړه. خو په دې وروستیو لسیزو کې د ډیموکراسۍ لپاره له ورانېدا څخه وروسته بېرته د خپل ځان راجوړول به نادراتو او ناممکناتو کې راځي. د Journal for Democracy له خوا په یوې خېړې شوې څېړنه کې راغلي دي چې له ۱۹۹۴ز کال راهیسې په ۱۹ هغو هېوادونو کې چې استبداد ته ورګرځېدنه یې تجربه کړې وه او یوه موده په استبداد کې پاتې شوي وو، او بیا توانېدلي وو چې په بریالیتوب سره بېرته خپله ډیموکراسي بېرته راژوندۍ کړي، په پینځو کلونو کې دننه ۱۷ هېوادونه له ډیموکراسۍ بېرته په شا شول. دا ځکه کله چې یو هېواد له ډیموکراسۍ څخه په شا استبداد ته وګرځېد، نو په کې د ډیموکراسۍ بنسټونه زیانمنېږي. که چېرې دغسې یو هېواد بېرته وتوانېږي چې ډیموکراسۍ ته راوګرځي، د ډیموکراسۍ بنسټونه یې په اسانۍ بېرته نه شي رغېدلی او هغه هماغسې زیانمن پاتې کېږي، ځکه خو یې بېرته استبداد ته ستنېدنه ممکنېږي.

په تېرو درې لسیزو کې یو ستر بدلون دا راغلی دی چې د استبداد د ملاتړ شبکه نوره هم پراخه شوې او پیاوړې شوې ده چې د اوسمهال مستبدین هم ترې ګټه اخلي. د مستبدینو ترمنځ له سرحدونو وراخوا د همغږۍ ګڼ پخواني مثالونه شته دي. دا مثالونه د ۱۹۳۰ز کال له فاشیستي محور څخه نیولې تر د سړې جګړې پر مهال د شوروي اتحاد تر ملاتړ لاندې شبکو پورې ټول په بر کې نیسي. خو کوم استبدادي ایتلاف چې د ۱۹۹۰السیزې له لومړیو څخه، هغه مهال چې استبداد په نړیواله کچه مخ په ځوړ روان و، رامنځته شوی دی، له هغو پخوانیو سره توپیر لري. دا توپیرونه د بنې او متحوا توپیرونه دي.

## جرمي شبکې زیاتره د استبدادي همکاریو برخه وي:

تر هر څه دمخه استبدادي نظامونه د زیاتو او غوره سرچینو درلودونکي دي. اوسمهال په نړۍ کې د استبدادي نظامونو شمېر د ډیموکراټیکو نظامونو له شمېر سره برابر دی. خو د استبدادي نظامونو درلودونکي هېوادونه زیات نفوس لري او دوی ورځ تر بلې شتمن کېږي هم. تر ټولو جالبه دا ده چې استبداد ډوله نظامونه (که څه هم ځینې یې لکه هندوستان ټاکنې هم تر سره کوي) په مجموع کې د نړۍ د نفوس له اویا سلنو (۷۰٪) څخه د زیاتو استازولي کوي.

همدارنګه د ډیموکراسۍ ډولونو (V-Dem) شاخص پر بنسټ په ۲۰۲۲ز کال کې په نړیوال ناخالص تولید (GDP) کې د استبدادي نظامونو درلودونکو هېوادونو ونډه (چې د پېرېدلو د توانایۍ یا Purchasing Power پر بنسټ محاسبه شوې) کې ۴۶٪ وه. په داسې حال کې چې دېرش کاله دمخه یانې په ۱۹۹۲ز کال کې دا ونډه یوازې ۲۴٪ وه. داسې اټکل کېږي چې دا ونډه به په راتلونکو کلونو کې نوره هم زیاته شي. له خپلو پولو څخه ورآخوا د سیاستونو د کنټرولولو لپاره د استبدادي دولتونو لېوالتیا د دوی د اقتصادي او پوځي ځواک له زیاتېدا سره سمه زیاته شوې ده او په ډیجیټل ټیکنالوژۍ کې د دوی پرمختګ عملاً دوی ته دا وړتیا ورکړې ده چې له خپلو پولو ورآخوا سیاستونه تر اغېز لاندې راولي. پر دې سربېره د منځنۍ کچې ځینې قدرتونه لکه ترکیه او متحده عربي امارات، چې د سیمه ییز نفوذ درلودونکي هم دي، استبدادي نظامونو نړیوال نفوذ یې نور هم پیاوړی کړی دی. که څه هم له سړې جګړې څخه وروسته کلونو کې په ډراماټیکه بڼه ځینې سیمه ییزې ادارې رامنځته شوې او ځینې چې له پخوا موجودې وې، هوا ورته ورکړل شوه، لکه د اروپا د خوندیتوب او همکارۍ سازمان؛ خو په تېرو څو لسیزو کې د شانګهای د همکارۍ سازمان (۲۰۰۱ز کال) او د ساحل دولتونو ایتلاف (۲۰۲۳ز کال) په څېر سیمه ییز سازمانونه د استبدادي نظامونو له لوري او د دوی په خدمت کې رامنځته شول.

د نن ورځې نالېبراله نړیواله جبهه (استبدادي نظامونه) له بیجینګ یا مسکو څخه نه رهبري کېږي. هغسې چې د سړې جګړې پر مهال د شوروي اتحاد تر رهبرۍ لاندې نړیواله کمونیستي جبهه (Comintern) په ایډیالوژیکه او د نظامي همغږۍ په برخه کې رهبري کېده چې وروسته بیا پر وارسا تړون واوښته. د نړیوالې کمونیستي جبهې پر عکس نالېبراله نړیواله جبهه له یو بل سره تړلو او یو پر بل اوښتو شبکو له ټولګې څخه جوړه ده چې ټول په ګډه د یوې نهایي استبدادي نړۍ د رامنځته کولو لپاره زمینه سازي کوي. د نړیوال استبدادي نظام بېلابېل عناصر لکه د روسیې اجیر سرتېري، د عربي خلیج د واکمنو کورنیو مالي سرچینې، د چین او امریکا څارونکې ټیکنالوژي او په اروپا او شمالي امریکا کې افراطي ښي اړخي سیاسي ګوندونه له یوې واحدې مرجع څخه قومانده نه اخلي، نه تنظیمېږي او نه هم د کوم واحد هدف لپاره عمل کوي، خو دوی یو بل د خپلو فعالیتونو له لارې په مستقیم او نامستقیم ډول پیاوړي کوي. د بېلګې په توګه، د مرکزي افریقا په جمهوریت او مالي کې استبدادي واکمنان د روسیې له خصوصي پوځي شرکتونو څخه مرستې تر لاسه کوي. خو په مقابل کې یې بېرته بیا دا شرکتونه په دغو هېوادونو کې د موجودو شرکتونو او متحده عربي اماراتو ترمنځ د سرو زرو د ناقانوني معاملاتو له لارې تمویلېږي. په عین حال کې بیا متحده عربي امارات د روسیې اجیر ځواکونه کاروي چې خپلو متحدینو لکه سوډان ته وسلې ورسوي. دغه اړیکې په ګډه په سیمه او نړۍ کې استبداد او مستبدین پیاوړي کوي.

د استبدادي نظامونو تر منځ همکاري بېلابېلې بڼې لري. یوه یې د ناډیموکراټیکو قدرتونو ترمنځ مستقیمه همکاري ده، لکه د چین، ایران، شمالي کوریا، روسیې او وینزویلا تر منځ همکاري. دا هېوادونه زیاتره وخت له یو بل سره پوځي استخباراتي معلومات شریکوي او یو بل ته ډیپلوماټیک خوندیتوب ورکوي. همدارنګه د ملګرو ملتونو سازمان په چوکاټ کې د ویټو حق د کارونې په وسیله د چین او روسیې یو له بله ملاتړ، په څو اړخیزو نړیوالو او سیمه ییزو فورمونو کې د ګډو اعلامیو خپرولو، د دفاعي او سوداګریزو تړونونو په لاسلیکولو (چې د څار او حساب ورکولو کوم مېکانېزم نه لري) له لارو دوی د داسې یوې فضا د رامنځته کولو او ښودلو هڅه کوي چې ځېل په کې عادي کېږي او حساب ورکوونه کمزورې کېږي.

همدارنګه هغو هېوادونو ته چې تر بنديزونو لاندې دي د اقتصادي مرستو او نورو بديلو لارو په برابرولو سره دا استبدادي نظامونه د لوېديځو هېوادونو هغه هڅې کمزورې کوي چې غواړي ډيموکراسي پياوړې کړي او د ځينې مخه ونيسي. پر دې سربېره، استبدادي نظامونه د يو بل د بشري حقونو له وضعيته دفاع کول او د روسيې تر رهبرۍ لاندې د ګډ امنيت تړون سازمان په څېر بنسټونو ته په تبليغ کولو سره ځانونه د لوېديځ تر رهبرۍ لاندې ډلو ته د يو بديل په توګه وړاندې کوي او په عين حال کې مستبدو واکمنانو ته دا پيغام ورکوي چې استبدادي حکومتولي کولای شي په نړيوال ډګر کې مشروعيت او ملاتړ تر لاسه کړي.

دا پينځه مستبد هېوادونه په بېلابېلو کچو له خپلو پولو ورآخوا مسايلو کې لاسوهنه کوي. سره له دې چې دوی په دوامداره توګه د حاکميت اصل ته په اشارې کولو سره پر دوی د بشري حقونو د سرغړونو په اړه نيوکې ردوي، خو په عمل کې د نورو هېوادونو د حاکميت اصل (Sovereignty) ته درناوی نه کوي، چې د نورو هېوادونو په سياسي چارو او مدني بنسټونو کې مداخله ونه کړي. يا دې د هغو ډلو له ملاتړ او پياوړتيا څخه لاس واخلي چې له دوی سره فکري يووالی لري، او يا دې هم د خپل منتقدينو او د ډيموکراسۍ پلوه ځواکونو له بدناملو څخه لاس په سر شي. د بېلګې په توګه، روسيه په پټه او ښکاره توګه خپل همفکره سياسي ګوندونه تمويلوي. د دولتي ملاتړ لرونکو رسنيو لکه RT او Sputnik له لارې ناسم معلومات خپروي، د ټولنيزو شبکو کمپاينونه او سايبري بريدونه ترسره کوي، تر څو عامه افکار او بحثونه ګډوډ کړي او د فرانسې، مالدووا او رومانيا په څېر هېوادونو کې پر ټاکنو خپل اغېز ولري. په ورته ډول، چين هم د کنفوسيوس انسټيټيوټونه (هغه اداري چې د چينايي ژبې او کولتور د ترويج لپاره جوړ شوي او فعاليت کوي)، د کډوالو ټولنې او له دولت سره تړلو رسنيو شبکې کاروي چې سياسي بحثونو ته نوی شکل ورکړي او په بهر کې د دوی منتقدين تر فشار لاندې راولي. چين همدارنګه پر پوهنتونونو له فشار راوړلو، د خبريالانو له ګواښلو او د استراليا او تايوان په څېر هېوادونو کې د بيجينګ پلوه نوماندانو له ملاتړ څخه هم دريغ نه کوي. په دې هڅو سره د استبداد نفوذ تر ډيموکراټيکو ساحو پراخېږي او د روڼتيا او کثرتپالنې په څېر نورمونه له منځه ځي، هغه نورمونه چې ډيموکراسي پرې ولاړه ده.

د منځنۍ کچې قدرت لرونکي استبدادي نظامونه هم پوځي او مالي وسايل کاروي چې له خپلو پولو آخوا په نورو هېوادونو کې هم نالېبراله حکومتولي ټينګه کړي او د ډيموکراټيکو بدلونونو مخه پرې ونيسي. د بېلګې په توګه، ترکيې د آذربايجان او ليبيا په څېر هېوادونو په جګړه کې ښېتو هېوادونو ته د Bayraktar TB2 بې پيلوټه الوتکو په ورکولو سره د دې هېوادونو مستبدو واکمنانو ته د جګړې په ډګر کې پرېکنده برلاسي ورکړه او هغه پوځي رژيمونه يې لا پياوړي کړل چې د نړيوالې حساب ورکوونې پر وړاندې ولاړ وو. په ورته توګه متحده عربي امارات په افريقا او منځنۍ ختيځ کې له ځينو ځواکونو څخه ملاتړ کوي. په دې ځينو ځواکونو کې د سوډان د چټک ملاتړ ځواکونه (Rapid Support Forces) هم شامل دي. دا هغه ډله ده چې د سوډان په کورنۍ جګړه کې هم ښکېله وه او ملګرو ملتونو پر وحشتناکو ظلمونو تورنه کړې ده. په عين حال کې سعودي عربستان هم د عربو پسرلي له پيل راهيسې له استبدادي مشرانو او د انقلاب ضد خوځښتونو ملاتړ کړی. د بېلګې په توګه، سعودي د ۲۰۱۳ز کال له پوځي کودتا څخه وروسته په مصر کې د واک ته رسېدلي ولسمشر عبدالفتاح السيسي د رژيم مالي او ډيپلوماټيک ملاتړ کوي. دې کودتا په مصر کې هغه لنډمهالې ډيموکراټيکې تجربې ته د پای ټکی کېښود.

ناقانونه او جرمي شبکې زیاتره وخت د دې نړیوالو همکاریو نه ښېلېدونکې برخه وي. شېل (Shell) شرکتونه، پټې بسپنې او د جایدادونو په اړه نامعلومې او نارښې معاملې هغه [توري] پیسې سپینوي چې له پولو ورآخوا د سیاسي لوبغاړو د تمویل لپاره ورکول کېږي. د ناقانونه پیسو د لېږد رالېږد دا ډول جریان فساد لا زیاتوي او ډیموکراسۍ ته ګواښ پېښوي. ځکه دا ناقانونه او توري پیسې د هغو هېوادونو مقننه بنسټونو او سیاسي ګوندونو ته ننوځي چې لا هم د لېبرال ارزښتونو د دفاع ادعا لري. د بېلګې په توګه، په آذربایجان کې د (لانډرومات Laundromat) د فساد شبکې کابو درې میلیارده ډالر د بډو په بڼه د اروپايي قانون جوړوونکو په شمول پر خلکو ولګول چې د دغه هېواد د بشري حقونو د سرغړونو پر وړاندې نیوکې غلې کړي او د اروپا په شورا کې چې د بشري حقونو یو سیمه ییز بنسټ دی، د آذربایجان مخ سپین کړي. همدارنګه په هسپانیه کې افراطي ښي اړخي ګوند (Vox) چې د لږه کیو د حقونو محدودول غواړي او د جنسیتي برابرۍ له قوانینو سره مخالفت کوي، منلې ده چې د ۲۰۲۳ز کال ټاکنیز کمپاین لپاره یې د هنګري له MBH بانک (چې هغه مهال MKB بانک و) څخه لس میلیونه ډالر پور تر لاسه کړی دی. د رویټرز Reuters او Politico Europe د راپورونو له مخې د MBH بانک څښتن د هنګري د لومړي وزیر وېکتور اوربان نږدې ملګری او پخوانی سوداګریز شریک دی. سره له دې چې د دې پور قانوني حیثیت هم تر پوښتنې لاندې دی، خو تر څنګ یې واقعیت دا دی چې د یو افراطي ښي اړخي ګوند د ټاکنیز کمپاین لپاره له یوې داسې اداري سره معامله شوې ده چې د اوربان د ملاتړ شبکه ګڼل کېږي. د نالېبراله رژیمونو له لوري د داسې مالي سرچینو په شتون کې استبدادي واکمنان او د استبداد ملاتړي په اسانۍ کولای شي خپله ادعا ژوندۍ وساتي او پر خپلو ډیموکراسۍپلوه سیالانو مالي برلاسی تر لاسه کړي.

### باور ماتوونکي

د نالېبرالې پروژې یوه بله مهمه برخه د استبدادپلوې ایډیالوژۍ او فکر خپرول دي. نالېبراله حکومتونه، سیاستوال، فکري ځېرې او د مدني ټولنې ډلې په ټوله نړۍ کې داسې روایتونه رامنځته کوي او شریکوي یې چې په [بالقوه ډول] ډیموکراتیک نورمونه او ارزښتونه ردوي. که څه هم دوی زیاتره یو شان نړۍلید نه لري (مانا نالېبرال او د استبداد په لور تلونکي رهبران ښايي د نالېبرالې ایډیالوژۍ په دواړو افراطي سرحدونو کې ولاړ وي) خو بیا هم د دوی له خوا خپرېدونکي پیغامونه ګڼې ګډې ځانګړتیاوې لري. د بېلګې په توګه دوی ټول زیاتره وخت د ښځو د حقونو په برخه کې شاتګ او د LGBTQ ټولنو د خوندیتوب د محدودولو غوښتونکي وي. په اروپا او متحده ایالاتو کې ښي اړخي ګوندونه او بنسټونه معمولاً دا حقونه د دودیزې کورنۍ جوړښت، دیني آزادۍ او ملي هویت ته د ګواښ په توګه انځوروي؛ خو په روسیه، افریقا او لاتیني امریکا کې [د متحده ایالاتو ښي اړخو ګوندونو او بنسټونو ته] ورته ګوندونه او بنسټونه یاد حقونه د لویدیځ له خوا [بهرني] تحمیل ګڼي چې د دې هېوادونو کولتوري حاکمیت کمزوری کوي. سره له دې توپیرونو بیا هم دا دواړه لوري یو ګډ ټکی لري: د ډیموکراتیکو بنسټونو، بشري حقونو او د لویدیځ د اخلاقو او حکومتولۍ د مشروعیت په اړه د شک خپرول. دا ډول هڅې اوس هر ځای لیدل کېږي. د اروپا د بهرني اقدام خدمت (European External Action Service) چې د اروپا یوه ډیپلوماتیکه اداره ده، له ۲۰۲۳ز کال راهیسې هر کال (د بهرنیو معلوماتو د تنظیم او لاسوهنې د ګواښونو کلنی راپور ( Report on Foreign Information Manipulation and Interference Threats چمتو کوي.

په دې اسنادو کې د روسيې او چين د زيانمنو او تفرقه اچوونکيو ناسمو معلوماتو د خپرولو هڅې مستندې شوې دي. د ياد بنسټ دربيم راپور چې د ۲۰۲۵ز کال په مارچ کې خپور شوی دی، د معلوماتي لاسوهنې له ۵۰۰ څخه زياتې پېښې په کې څېړل شوي دي. دا پېښې له ۳۸زره څخه د زياتو چينلونو له لارې خپرې شوي دي. د دغو معلوماتي کمپاينونو زياتره یې داسې پيغامونه رسوي چې په يو نه يو ډول له ښي اړخي سياست او پاپولېزم پورې اړوندېږي. د دې کمپاينونو پراخ اغېز دا و چې پر ډيموکراتيکې حکومتولۍ د خلکو باور کمزوری کړي او نالېبرال يا د ډيموکراسۍ ضد ويناوې عادي وښيي. د بېلګې په توګه په ۲۰۲۴ز کال کې په فرانسه کې يو کمپاين تر سره شو. کمپاين داسې و چې پينځه تابوتونه چې د فرانسې بيرغ پرې غوړېدلی و، د ايفل برج تر څنګ کېښودل شول. پر تابوتونو ليکل شوي وو: ((فرانسوي سرتېري په اوکراين کې)). دا يو تمثيلي اقدام و چې هم په حضوري بڼه او هم په انلاين توګه د خلکو پام ورته واوړي. د دې کمپاين په اړه فرانسوي چارواکي لا هم شک لري چې ګنې دا کمپاين يا ننداره دې په روسيې پورې تړلو فعالانو طرحه او وړاندې کړې وي. ښايي د دې لپاره چې پر اوکراين د روسيې د ۲۰۲۲ز کال د يرغل په مقابل کې د فرانسې د حکومت د ملاتړ پر ضد د خلکو غوسه راوپاروي. تر دې دمخه، روسيې د يو اقدام په ترڅ کې چې ډوبل ګينګر نومېده او د ۲۰۲۲ز کال په وروستيو کې دا اقدام افشا شو. د دې اقدام په ترڅ کې له مسکو سره تړليو فعالانو د اروپا د سترو رسنيو تقلبي نسخې جوړې کړې وې. په دې نسخو کې د اوکراين، د پاريس د اولمپيک د لوبو او د اروپايي سياست اړوند نورو موضوعاتو په اړه د کرېملين په پلوۍ ناسم معلومات خپاره شوي وو. وروسته بيا دا ناسم معلومات د بنګله دېش، مالېزيا او سلواکيا په څېر هېوادونو کې د د روسيې د ډيپلوماټيکو حسابونو (اکاونټونو) له لارې خپاره شول. پر دې سربېره دا ناسم معلومات بيا د ځينو ښي اړخو رسنيو او په انلاين ډګر کې د اغېزناکو څېرو له خوا هم په اروپا او متحده اياالاتو کې خپاره شول او په دې ډول د روسيې هغه اقدام د ډيموکراټيکو ارزښتونو پر خلاف په يو کمپاين بدل شو.

په نړۍ کې ډيموکراسۍ لا هم د داسې يوې لوبې د قواعدو له مخې لوبېږي چې اصلاً وجود نه لري. د ځينو روايتونو جوړېدل او خپرېدل تر يادو شويو همغږيو هم ډېره همغږي لري. د ۲۰۲۵ز کال د فبرورۍ په مياشت کې په مادرېد کې يوه لاريون وشو چې سرليک يې و: ځئ چې اروپا بېرته ستره کړو يا Make Europe Great Again. دا لاريون د اروپا د ښي اړخي ګوند (Patriots. EU) له لوري تنظيم شوی و. په دې لاريون کې د اروپا د ټولې وچې ښي اړخي ګوندونه راټول شوي وو. همدارنګه د محافظه کارانو د سياسي عمل کنفرانس يا (CPAC) چې د محافظه کارو فعالانو او سياستوالو کلنۍ غونډه ده، که څه هم په اصل کې په متحده اياالاتو کې پيل شوی دی، خو په وروستيو کلونو کې په هنګري او پولينډ کې هم ترسره شو او له ټولې اروپا، لاتيني امريکا او نورو سيمو څخه زرګونو ګډونوالو په کې ګډون درلود. په دغسې کنفرانسونو کې ويناوال د يو بل ملاتړ کوي، د اړيکو شبکې جوړوي او خپل نالېبرل نظريات شريکوي. په دې توګه دوی په خپلو کې داسې نالېبرالې اړيکې رامنځته کوي چې پر بنسټ يې د هېوادونو په داخل کې نالېبرالو خوځښتونو ته لرليد، مشروعيت او سياسي وزن ورکوي. د دې ډول غونډو محتوا هم دوديز محافظه کار بحثونه او ناسم معلومات رانغاړي. په نتيجه کې د دوديزو محافظه کارو بحثونو او ناسمو معلوماتو ترمنځ کرښې ګډوډېږي، نو استبدادي پيغامونه د عامو اورېدونکيو لپاره د منلو وړ ښکاري.

ځيني وختونه د نالیبرالو حکومتوليو او پرمختيايي ليدلورو ترويج او کمپاين بيخي ښکاره او علني وي. د بېلګې په توګه د چين کمونيست ګوند په افريقايي هېوادونو لکه ناميبيا، سويلي افريقا او تانزانيا کې د ګوندي مشرانو او دولتي چارواکيو لپاره هغه روزنيز پروګرامونه زيات کړي دي چې دولتي چارواکيو ته ور زده کوي چې د ډيموکراسۍ له (ګډوډۍ) پرته کوم کوم شيان تر لاسه کېدای شي. همدارنګه همفکره سوداګريزو مشرانو هم د دې فرصتونو ارزښت درک کړی دی چې نالیبراله روايتونه نړيوالو اوربدونکيو ته لاپسې وغځېږي. د بېلګې په توګه ايلان ماسک له ۲۰۲۲ز کال راهيسې چې ټوېټر (اوسنی ايکس) يې اخيستی دی، دا پلاټفارم يې د هغو سياستوالو او نوماندانو پر ضد کارولای دی چې دی فکراً ورسره مخالف دی. ايکس د ښي اړخو ناسمو معلوماتو لپاره کارېږي. نوموړي حتا د افراطي محتوا پر وړاندې هم حفاظتي تدابير کمزوري کړي دي او پر اصلي رسنيو يې د پرله پسې بريدونو زمينه سازي کړې ده. دا ډول ښکاره سياسي مداخله (هغه که د متحده اياالاتو په داخل کې وي او که بهر) د کرکې وينا پياوړې کوي، د مطبوعاتو آزادي له ګواښ سره مخ کوي او هغه سياستوال او وګړي ځواکمنوي چې لرې کي او ګوښه شوې ډلې يې نښه دي. همدارنګه د رايه ورکوونکيو دا وړتيا کمزورې کوي چې د ټاکنو پر مهال د معلوماتو پر بنسټ خپلې پرېکړې وکړي.

که د نالیبرالو د پيغام موخه دا وي چې پر ډيموکراټيکو بنسټونو د خلکو باور او اعتماد راکم کړي، نو داسې ښکاري چې دا موخه تر ډېره بريده تر لاسه شوې ده. د سياسي علومو د استاد وېل جېنينګز د موندنو له مخې په ډيموکراټيکو هېوادونو کې پر ملي پارلمانونو باور له ۱۹۹۰ز کال راهيسې اته سلنه راکم شوی دی. دا کمښت په حقيقت کې د سياست په اړه د ولسي ناخوښۍ ښکارندويي کوي. دا ناخوښي هم د کچې له پلوه او هم د شدت له پلوه پراخه شوې او زياته شوې ده. په پای کې ويلی شو چې پر ډيموکراټيکو بنسټونو د باور دا زوال هغه ټولنيز ټرون لا کمزوری کوي چې استازې يا نماينده حکومتولي پرې ولاړ ده. همدارنګه د باور دې زوال د نړۍ ډيموکراسۍ د پاپوليستي عوامفريبۍ، د بنسټونو فلج کولو او د استبداد نورو بديلونو پر وړاندې چې په تدريجي ډول عادي شوي دي، لا زيانمنې کړې.

**له انسانه تر انسانه**

يوه هغه وروستۍ لار چې مستبد او د استبداد تمايل لرونکي رهبران پرې له سرحدونو ورآخوا هم له يو بله ملاتړ کوي، د شخصي اړيکو لار ده. د بېلګې په توګه کله چې د برازيل پخوانی ولسمشر ژير بارسلونارو د ۲۰۲۲ز کال په ټاکنو کې د درغليو له امله تر عدلي تعقيب لاندې راغی، نو ټرمپ په ښکاره توګه د برازيل عدلي نظام د دې کار له امله وغنده او د متحده اياالاتو د خزانې وزارت په دې قضيه کې پر دخيل مخکښ قاضي بنديزونه ولګول. ټرمپ همدارنګه پر برازيلي توکو ۴۰٪ سلنه تعرفې هم ولګولې. برازيليانو د ټرمپ دا کار د برازيل حکومت ته د جزا ورکولو په توګه وګاڼه، له دې امله چې بالسلونارو يې عدلي تعقيب سره مخ کړی و. خو شخصي اړيکو باندې همېشه باور هم نه شي کېدای. وېکټور اوربان او ولاديمير پوتين يو مهال نږدې کاري اړيکې درلودې. د دې اړيکو بنسټ يو له بل سره د انرژۍ د منابعو پر سر معاملې او د دواړو نالیبراله نظريات وو. د همدې نږديوالي له امله و چې هنګري پر روسي ګازو سخته تکيه وکړه او مسکو ته يې د اروپايي ټولنې دننه د نفوذ کولو سخته لاره هواره کړه. خو دا ګرمه ملګرتيا هغه مهال سړه شوه، کله چې روسيې په ۲۰۲۲ز کال کې پر اوکراين يرغل وکړ. ځکه د اروپايي ټولنې بنديزونو او د بوديجې کنګل کېدا بوداپست اړ کړ چې په پټه توګه د انرژۍ بديلي سرچينې ولټوي او له همدې امله يې له مسکو سره اړيکې ترينګلې شوې.

کټ مټ خورې اړیکې د ۲۰۱۰ز کال لسیزې په پیل کې د ترکیې د لومړي وزیر رجب طیب اردوغان او متحده عربي اماراتو ترمنځ هم موجودې وې. دغه مهال په ترکیه کې د اماراتو پانګونو اردوغان ته دا زمینه برابره کړه چې خپلې د ملاتړ شبکې ټینګې کړي او واک متمرکز کړي. خو د عربو پسرلي د اعتراضونو پر مهال چې اردوغان د هغو په اصطلاح اسلامپالو سیاستوالو ملاتړ وکړ چې د اماراتو حکومت یې مخالف و، نو له دې امله د ترکیې او اماراتو اړیکې هم خرابې شوې. په دې ډول ویلای شو چې استبدادي همکاري کېدای شي ګټوره هم وي، خو واقعیت دا دی چې ډېره نازکه او ژر ماتېدونکې هم وي. همدارنګه دا همکاري همېشه د مستبدو واکمنانو د ژغورنې لامل هم نه ګرځي. د برازیل سترې محکمې د سپټمبر په میاشت کې بولسونارو د کودتا په دسیسه کې د دخالت له امله مجرم وباله او د ټرمپ غوسې او تعرفو هغه ته کومه ګټه ونه رسوله.

خو له دې ټولو سره سره بیا هم دا نارسمي اړیکې خپل اهمیت لري. که مستبدین له خپلو پولو وراخوا ملاتړ ولري، نه یوازې په مالي لحاظ ورته ژوند ښني، بلکې ډېپلوماټیک پوښښ او بهرنی مشروعیت هم ورته رسېږي. د دې ګټه بیا دا وي چې پر مستبدو واکمنانو کورنی فشار هم کمېږي او په کور دننه خلک او مخالف لوري اړ کوي چې پر مستبدو واکمنو بهرني بندیزونه او مخالفتونه له هغوی سره یو ځای وزغمي او غاړه ورته کېږدي. له بلې خوا د مستبدو واکمنیو دا پراخ ملاتړ په داخل او خارج کې بالقوه ننګونکو ته خطر زیاتوي او هغوی پر دې سوچ کولو ته اړ کوي چې ګنې د دوی په ځپلو کې به مستبد حکومت اغه دغه وکړي. همدا لامل کېږي چې د استبداد پر وړاندې مقاومت کمزوری کېږي او په نتیجه کې استبداد له پراخېږي او ژورېږي او څومره چې پر وخت اوړي، د استبداد ماتېدل ناشونې کېږي.

**له مبارزې څخه وتل**

ډیموکراټیکو شبکو له لسیزو راپدېخوا پر نورو هغو برلاسی درلود. دا ډیموکراسي او د نړۍ ډیموکراسۍ وې چې د شلمې پېړۍ نړیوال نظم یې د ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې، ناټو، او د نړیوالو مالي او حقوقي بنسټونو په رامنځته کولو سره جوړ او پیاوړی کړ. همدا بنسټونه وو چې لېبراله ارزښتونه یې رامنځته کړل. د ټولو او جمعي خوندیتوب تضمینونه یې برابر کړل او دا یې هم په زباد ورسوله چې ډیموکراټیک ایتلاف د معنوي ګټو تر څنګ مادي ګټې هم لري. خو ډیموکراسۍ ونه توانېدې چې خپله برلاسي وساتي. ډیموکراټیکو بنسټونو د خپلو پروسیجرونو او طرزالعملونو له مخې ځانونه بېطرفه ګڼل او د عمل پر مهال یې د نورو توافق او اجماع ته ځانګړی اهمیت ورکاوه، نو له همدې امله نالېبرالو لوبغاړو د لېبرالو بنسټونو له محدودیتونه وازمایل او چې پوه شول چې لاس یې پرې برېږي، نو که یې مات نه کړل، له دننه څخه یې کاږه کړل.

له دې ورآخوا د ډیموکراسیو بله ستونزه دا وه چې هېوادونه یې د ځان په لور نه شول جذبولای. د بېلګې په توګه په لاتیني امریکا کې د شلمې پېړۍ په اوږدو کې متحده ایالاتو د پوځي واکمنیو ملاتړ کاوه، خو په دغه سیمه کې له سړې جګړې وروسته ګڼو هېوادونو د واشنګټن د دې غوښتنې په اړه شک درلود چې حکومتونه یې باید ډیموکراټیک شي. په افریقا او آسیا کې هم هغه مشران چې تل ترې غوښتنه کېږي چې (ډیموکراسي د خپل نظام په توګه وټاکئ)، ډېر لږ ځان قانع کولای شي د ډیموکراسۍ په لور دې لاړ شي.

په دې سیمو کې خلک له هغو ټاکنیزو سیسټمونو ناهیلي دي چې د خلکو لپاره کومه اقتصادي سوکالي نه شي راوستلای. هغه روایت چې د ډیموکراسۍ حمایت یې کاوه او د شلمې پېړۍ په اوږدو کې به تري خلکو او خوځښتونو الهام اخیست، اوس زوړ شوی دی او په خلکو کې هېڅ جذبه نه شي راپارولای. اوسمهال ځینې لویې ډیموکراسۍ حتا د (ډیموکراسۍ) کلیمې له کارولو هم ډډه کوي. د بېلګې په توګه په انګلستان کې بېلابېلو حکومتونو خپله بهرنۍ پالیسي د (پرانیستو ټولنو) په نوم بیانوي او قصداً د ډیموکراسۍ د دفاع خبره نه کوي، د دې لپاره چې د خپلو استبدادي شریکانو پر وړاندې د شرم له احساس سره مخ نه شي او یا هم ورسره په کړکېچ کې ښکېل نه شي. پر دې سربېره، ځینې هغه هڅې چې د ډیموکراسۍ د بیا احیا لپاره کېږي، لکه د ډیموکراسۍ سرمشریزه چې د متحده ایالاتو سرمشریزه جوبایډن په ۲۰۲۱، ۲۰۲۳، او ۲۰۲۴ز کلونو کې راغوښتې وه، د دې پر ځای چې په واسطه یې ډیموکراسي پیاوړې او بیا احیا شي، لا هم د ډیموکراسۍ کمزورۍ رابرسېره کوي. تر ټولو جالبه دا ده چې دغو هڅو نه د مدني ټولنې تود هر کلی تر لاسه کړ او نه یې هم د عامه افکارو پراخه پاملرنه جلب کړه.

اوسنۍ امریکایي اداري هم د ډیموکراټیک ایتلاف مشري له لاسه ورکړې ده. د ۲۰۲۵ز کال په جولای کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبیو امریکایي ډیپلوماټانو ته لارښوونه وکړه چې د نورو هېوادونو د ټاکنو د (عدالت او روڼتیا) او همدارنګه د (ډیموکراټیکو ارزښتونو) په اړه له نظر ورکولو څخه ډډه وکړي. سربېره پر دې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) په له منځه وړلو یا هم کمزوري کولو سره یې په ټوله نړۍ کې د خپرونکو ژورنالیستانو، د بشري حقونو د څارونکیو، د ټاکنو د څارونکیو، او نورو ډیموکراسۍ ملاتړ ډلو لپاره حیاتي مالي سرچینې بندې کړې. دا چې په اروپا کې هم سیمه‌ییزې تګلارو او مالي محدودیتونو د بهرنیو مرستو بودیجې راکمې کړې دي، نو دا امکان نه شته چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري تشه دې اروپا ډکه کړي. په نړیواله کچه هغه ډلې چې پخوا یې د ډیموکراټیکو ارزښتونو دفاع کوله، اوس د خپلو لومړنیو لګښتونو د پوره کولو لپاره سرګردانه دي او په دې ډول استبدادي حکومتونو او خوځښتونو ته نورو هم لاره هواره شوې ده. ډیموکراټان د یوې داسې لوبې د اصولو له مخې لوبه کوي چې اصلاً هغه لوبه نوره نشته. دوی لا هم پر بې روحه اعلامیو، تکراري کنفرانسونو او محتاطانه ډیپلوماسۍ زور اچوي، په داسې حال کې چې سیالان (مستبدین) یې ډېر بېرحمه، نوښتګر او له یو بل سره ډېر تړلي دي. د نالېبرال نړیوال بهیر پراختیا ودرول په دې پورې تړلي دي چې د ډیموکراسۍ مدافعین خپله تګلاره له سره ارزوي او کنه؟

تر هر څه لومړی باید له لاسه وتلې بیانیه (Narrative) بېرته تر لاسه کړل شي. د ډیموکراسۍ ملاتړي فعالان او خوځښتونه باید ډیموکراټیک ارزښتونه له کلتوري پلوه د خلکو له ژوندد سره وتړي او له خلکو سره هغه ځای کې وګوري چېرته چې هغوی دي او هغوی ته عملاً وښیي چې ډیموکراسي څنګه د ورځني ژوند کیفیت ښه کوي. د فرانسې یو اوسمهالی مثال د دغسې یو ستراتیژۍ ښه پوتانشیل لري: د ۲۰۲۴ز کال د مقننه قوې د غړیو تر ټاکنو دمخه د وټس آپ په یو ګروپ کې ټول یو سل او دېرش تنه فعالان، اغېزناک شخصیتونه او په ټولنه کې نفوذ درلودونکي اشخاص (چې خلکو پرې باور درلود) راټول شوي وو. دوی لنډ ویډیوي پیغامونه، یادښتونه او لیکلي پیغامونه جوړول چې په کې به د ټاکنو اهمیت تشریح شوی و، دوی به ګمراه کوونکي معلومات ردول او خلک یې د شخصي، هیله بښوونکي او تخلیقي لهجه هڅول چې رایه ورکړي. دې ډلې په ټیلیګرام کې هم یو ګروپ درلود چې تر دېرش زرو زیات کاروونکي یا غړي یې درلودل. دوی به په دې ګروپ کې د کمپاین او ټاکنو اړوند لارې چارې او لارښوونې خپرولې، لکه د ټاکنو په ورځ د رضاکار کارکولو طریقې.

ډیموکراسۍ باید د مستبدینو د ناسمو معلوماتو ځواب هم په ښه اغېزناکه توګه ورکړي. په دې برخه کې اروپايي اتحادیې یو څه پرمختګ کړی دی: د اروپايي اتحادیې د ۲۰۲۲ز کال د ډیجیټلي خدمتونو قانون د میټا او ایکس په څېر له لویو فلاټفارمونو څخه وغوښتل چې ژر تر ژره ناقانونه مواد لرې کړي، او هم دې د منځپانګې د تنظیم الګوریتمونه روښانه کړي، او د Recommendation Features له لارې دې د ناسمو معلوماتو خپرېدل محدود کړي. پر دې سربېره، اروپايي ډیپلوماتان هم په منظم ډول د چین او روسیې په دولتونو پورې اړونده رسنیو او (Troll) شبکو له لارې خپرېدونکې جوړې شوې کیسې او خبرونه غندي. خو یوازې یوه سیمه ییزه هڅه بسنه نه کوي. لکه څرنګه چې استبدادي حکومتونه په خپلو کې سره د تبلیغاتو او پروپاګنډ لارې چارې سره شریکوي او په دې ډول د یو بل پیغامونه پیاوړي کوي. ډیموکراټیک حکومتونه هم باید خپلې سرچینې او استخباراتي معلومات سره یو ځای کړي او د انلاین پلاټفارمونو لپاره د معلوماتي بشپړتیا د ساتلو ګډ معیارونه جوړ کړي.

مالي تمویل هم ډېر مهم دی. ډیموکراټیک حکومتونه باید د مالي تمویل لارې پراخه کړي او هغو چینلونو ته مالي امکانات برابر کړي چې له لارې یې د ډیموکراسۍ فعالان، خپلواک ژورنالیستان او د مدني ټولنې بنسټونه د فساد په اړه خبرتیا ورکوي، ناسم معلومات افشا کړي او خلک سره بسیج کوي. ډیموکراټیک حکومتونه کولای شي چې د مالیاتو د تخفیف، د مطابقت مرستې (Matching Grants)، او د عامه – خصوصي مشارکتونو له لارې خصوصي سکټور وهڅوي چې د شرکتونو د ټولنیز مسوولیت بودیجه د رسنیو آزادۍ او د مدني ټولنې د بنسټونو نوښتونو ته ځانګړې کړي. ډیموکراټیک حکومتونه باید هغه ناقانوني مالي پروسې وتړي چې له لارې یې استبدادي نظامونو ته پیسې برابرېږي. دا کار د استخباراتي معلوماتو شریکولو، له پولو ورآخوا د شتمنیو تعقیب او د قانوني وسایلو پیاوړي تطبیق ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه د اروپايي ټولنې د پیسو سپینولو ضد لارښودونه، د متحده ایالاتو د مګنیتسکي قانون په څېر بندیزونه چې د بشري حقونو سرغړوونکي په نښه کوي، او د ملګرو ملتونو د فساد ضد کنوانسیون د بډو ضد او د شتمنیو د بېرته تر لاسه کولو احکام. اروپايي ټولنې په دې برخه کې یو څه پرمختګ کړی دی او ښايي د خپل نوي اعلان شوي نوښت (Democracy Shield) لاندې نور ګامونه هم واخلي. په ټوله کې ډیموکراټیک حکومتونو ته ډېر څه کول پکار دي چې پر استبدادي فعالانو باندې د هغو مالي او ډیپلوماټیکو سرچینو لارې بندې کړي چې دوی ترې تغذیه کېږي او پرې پایېږي.

د وروستي ټکي په توګه باید یاده کړو چې د نن ورځ ډیموکراټیک اتحاد متنوع مشرتابه ته اړتیا لري. په دې مانا چې یوازې اروپايي او د شمالي امریکا هېوادونه باید د ډیموکراټیکې اجنډا ټاکوونکي نه اوسي. د ډیموکراسۍ ترویج یو پراخه ایتلاف ته اړتیا لري، داسې ایتلاف چې نوې انرژي او نوي نظریې ولري. کېدای شي دا خوځښت د نړۍ له یوې بلې سیمې راپورته شي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۵ز کال په جولای میاشت کې د چیلي هېواد په کوربه توګه د Democracia Siempre) یا Democracy Always) په سرمشریزه کې د برازیل، کولمبیا، هسپانیا، او یوراګوای هېوادونو مشرانو ګډون درلود. د دې سرمشریزې ګډونوالو هوکړه وکړه چې د حکومتونو او د مدني ټولنې د غړیو یوه نړیواله شبکه به جوړه کړي چې د ټولشموله او ځوابویوونکې ډیموکراسیو جوړولو هدف ته ورسي.

ډيموکراسي په هر ډګر کې ننګول کېږي، نو باید چې په هر ډګر کې ترې دفاع وشي. له همدې امله ډيموکراټيک حکومتونه، ډيموکراسۍ پلوه د مدني ټولنې ډلې، رسنۍ، او نړیوال بنسټونه ټول اړ دي چې نه يوازې د خپلو هېوادونو په داخل کې سياسي سيستمونو پياوړي کړي، بلکې د هغو نالېبرالو شبکو پر وړاندې هم ودرېږي چې په ټوله نړۍ کې د استبدادي خوځښتونو د پياوړتيا او ځواکمنتيا لپاره هلې ځلې کوي. د استبدادي خوځښتونو تر منځ غوره همغږي د دې باعث شوې ده چې استبداد پر ډيموکراسۍ پياوړی شي. تر هغې چې د ډيموکراټيک اتحاد غړي خپلې ستراتېژۍ نوې نه کړي، د دوی مخې ته له زوال پرته بل هېڅ هم نه شته!

پای